PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

# شهادت

اوونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

### درس قرآن

ای محمده! ووایه: که تاسې له الله جل جلاله سره رښتینې مینه لرئ نو زما متابعت وکړئ الله جل جلاله به له تاسې سره مینه وکړي او ګناهونه به مو وبخښي. الله پاک بخښونکی او مهربان دی. ای محمده! ووایه: د الله او د رسول منـنـه وکړئ. که مخ یې واړاو نو الله پاک کافران نه خوښوي. (آل عمران: ۳۱ - ۳۲ آیتونه)

### درس حدیث

از ابوهریره (رض) روایت است که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: «همهٔ امتیان من وارد بهشت خواهند شد مگـر کسی که امتناع ورزد». صحابه عرض کردند: ای رسول خدا! چه کسی امتناع می ورزد؟ فرمود: «هرکس که از من اطاعت کند، وارد بهشت می شود و هر کس، از من نافرماني کند، در حقیقت، امتناع ورزید ه است». (صحیح البخاری)

شهادت درېیم کال، ۴۵ مه ګڼه، پرله پسې ۱۴۵ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د سلواغې ۱۹ مه د۱۴۳۳ هـ ق د ربیع الاول ۱۲ مه د۲۰۱۲ م د فبروری ۸ مه

## روند واګذاری مسئولیت زندان "بګرام" به دولت افغانستان آغاز شد

کابل، رسانه ها:
وزارت دفاع افغانستان ضمن اعلام آغاز روند واګذاری مسئولیت کامل زندان بګرام به دولت افغانستان، از انتقال شماری از زندانیان به زندان "پلچرخی" خبر داد.
به ګزارش ګران افغانستان، در پی تصمیم حامد کرزی مبنی بر واګذاری مسئولیت کامل زندان بګرام از نیروهای خارجی به دولت افغانستان، این روند روز ګذشته به صورت رسمی آغاز شد.
وزارت دفاع افغانستان با انتشار یک اعلامیه ګزارش داد: روز دوشنبه شماری از زندانیان افغان مستقر در زندان بګرام ولایت "پروان"، به دولت افغانستان تحویل داده شدند.
با وجود آن که در اعلامیه وزارت دفاع به تعداد این زندانیان اشاره نشده اما تصریح شده است که آنان پس از تحویل به مسئولان

بقیه در صفحه ۴

## ګیلاني د افغانانو په مشرۍ د سولې د طرحو پر ملاتړ ټینګار وکړ

راډیو آزادي:
د پاکستان د صدراعظم دفتر د رضا ګیلاني له قوله وویل، چې ده د قطر له صدراعظم سره په کتنه کې د خپل حکومت پر دې درېـځ ټینګار وکړ، چې د افغانستان د سولې لپاره د افغانانو په مشرۍ دافغانانو دطرحوملاتړ کوي.
یوسف رضا ګیلاني د دوشنبې په ورځ قطر ته ورسېد، چې د دغه هېواد له صدراعظم او امیر سره د افغانستان د سولې په اړه خبرې وکړي.
ګیلاني وروسته له دې قطر ته لاړ، چې تېـره اوونۍ یې دبهرنیوچارو وزیـره لـه افـغـان چارواکو سره دمفصلو خبرو لپاره کابل تـه ولېږله.
ګیلاني د دوشنبې په ورځ دوحې ته ورسېد،

پاتې ۴ مخ

## د شیکاګو په سرمشریزه کې به د افغان ځواکونو د تمویل اندېښنې پای ته ورسیږي

کابل، رسنی:
افغان چارواکي تمه لري، چې په شیکاګو کې به د ناټو د غړیو هېوادونو د سرمشریزې په غونډه کې د افغان امنیتي ځواکونو د تمویل او تجهیز په اړه موجوده اندېښنې پـای ته ورسیږي.
د بهرنیو چارو وزارت ویاند جانان موسی زي د سې شنبې په ورځ په کابل کې خبریالانو ته وویل، چې د شیکاګو کـنـفـرانـس د روان میلادي کال په مې میاشت کې جوړیږي او د افغانستان په اړه پر مهمو مسایلو په کې خبرې کیږي.
د ښاغلي موسی زي په خبره په دې کنفرانس کې به د امنیتي مسوولیتونو د لـړۍ پر بریالیتوب، د افغانستان او ناټو ترمنځ د امنیتي ستراتیژیکو همکاریو پرسند او دغه راز د اوږدې مودې لپاره له افغان امنیتي ځواکونو څخه د ملاتړ په اړه خبرې وشي:
(د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو لږ تر لـږه د لسو نورو کلونو لپاره د انتقال د پروسې نه اخوا د نړیوالې ټولنې مالي ملاتړ ته اړ دي هم د تعلیم او تربیې په برخه کې هم د تجهیزاتو په برخه کې وسایطو په برخه کې او همداراز

پاتې ۴ مخ

## امریکا در مورد فعالیت نیروهای خاص خود در افغانستان غور می کند

کابل، رسانه ها:
اردوی امریکا در مورد چګونه ګی فعالیت و موثر بودن نیرو های خاص خود در افغانستان غور می کند. این اقدام در حالی صورت می ګیرد که مقامات ارشد امریکایی ګفته اند، شیوه عملیات نیرو های خاص این کشور در افغانستان تغییر خواهد کرد.
قرار است نخستین ګام ها در مورد تغییرات در شیوه استخدام نیرو های خاص امریکایی در چند ماه آینده برداشته شود. وزارت دفاع امریکا به همین منظور، یک جنرال دو ستاره را، بحیث قوماندان نو موظف می سازد تا تمام ماموریت نیرو های خاص امریکایی در

بقیه در صفحه ۴

## مشرانو جرګه: در بودجهٔ سال ۱۳۹۱ توازن درنظر ګرفته نشده است

کابل، پژواک:
برخی اعضای مشرانوجرګه میګویند که در بودجه سال ۱۳۹۱، توازن درنظر ګرفته نشده و عدم مدیریت سالم در وزارتخانه ها، باعث ګردیده که آنها نتوانند در جریان سالجاری، بودجهٔ انکشافی شانرا به مصرف برسانند.
طرح بودجه سال آیندهٔ مالی که قسمت بیشتر آن در سکتورامنیتی و پروژه های انکشافی به مصرف خواهد رسید، بتاریخ ۱۶ دلو به مشرانوجرګه ارائه شده و در مورد آن، از سوی وزیر مالیه به جرګه معلومات داده شد.
داکتر حضرت عمر زاخیلوال وزیر مالیه که دو روز قبل، در مورد طرح بودجه به مشرانوجرګه معلومات میداد، ګفت که بر اساس تعدیل قانون مالیه، بودجه و مصارف عادی این وزارت ۱۳۴،۳ میلیارد افغانی، و ۱۱۰ میلیارد افغانی بودجهٔ انکشافی برای نه ماه سال ۱۳۹۱ در نظر ګرفته شده است.
اما صفت الله حقمل نماینده مردم لوګر در مشرانوجرګه، در اجلاس دیروز (۱۸ دلو) ګفت که در طرح بودجهٔ سالجاری بخصوص برای ولایات عقب مانده، توازن در نظر ګرفته نشده است.

بقیه در صفحه ۴

## بیجا شده ګان در برابر سرمای طاقت فرسا نزده درجه تحت صفر

دوکتور محمد انور

صفحه دوم

## دنړیوالو ځوکونو له وتو سره به کورنۍ جګړه پیل شي؟

عبدالله کامه وال

درېیم مخ

## د قطر په خبرو کې بین الافغاني خبرو ته زمینه نه ده برابره شوې

په یوه خانګړې مرکه کې خبرې کولې

آزادي راډیو:
په کابل کې د امریکا سفیر د سولې په اړه د بین الافغاني خبرو له پیل نه مخکې د افغان او قطر حکومتونو ترمنځ تماس او د طالبانو له خوا د نړیوال تروریزم غندل او د سیاسي حل لارې ملاتړ ضروري بولي.
امریکا له تیرو شاوخوا لسو میاشتو راهیسې له طالبانو سره په خبرو بوخته ده، چې د ځینو امریکایي چارواکو په وینا په حساس پړاو کې دي، خو افغان حکومت له دغو خبرو لرې ساتل شوی.
خو رایان کراکر، چې له ازادی راډیو سره یې

پاتې ۴ مخ

## (جګ لوونه) او د سولې خبرې

انس

په دې ورځو کې د افغانستان لپاره د سولې په اړه تازه خبرونه خپرېږي، زموږ ځینې رسنۍ دې هم خیر یوسي، لومړی یې په جرمني او قطر هېوادونو کې د طالبانو او د امریکا متحده ایالاتو د استازیو ترمنځ د خبرو اترو خبرونه خپاره کړل، بیا یې په قطر کې د طالبانو لپاره د دفتر د پرانستې خبر خپور کړ، بیایې له ګوانتانامو زندان نه د طالبانو پنځه جګپوړي بندیان راخوشې کړل، خو دا دی اوس څرګنده شوه چې نه په قطر کې د طالبانو لپاره دفتر پرانستل شوی او نه د طالبانو پنځه کسه بندیان آزاد شوي دي، لا چې د امریکا په کانګرس کې د بندیانو د خوشې کېدو په باب اختلافات هم رامنځته شوي دي.
بلې خواته که څه هم د طالبانو ویاندویانو په قطر کې د سولې د خبرو اترو لپاره د دفتر پرانستلو نه زړه ښه کړی، خو د خبرو اترو د پیل لپاره یې ځینې داسې شرطونه وړاندې کړي دي چې که د افغانستان د اوسنیو او راتلونکیو حالاتو ته په دقت سره وکتلای شي، دومره لوړ شرطونه دي، چې په واقعیت سره دا ترې څرګندېږي، چې ګواکې طالبانو لاتراوسه د سولې اړتیا احساس کړې نه ده، بلکې د یو څه امتیازاتو د لاسته راوړو په خاطر خبرو اترو ته حاضرېږي لکه د طالبانو یو شرط دا دی چې: "له خبرو اترو دمخه یا د خبرو اترو په دوران کې او یا د خبرو اترو په پای کې به اوربند نه اعلانېږي" او یا دا بل شرط چې: "طالبان کولای شي هر مهال چې وغواړي، له خبرو اترو ګوښه شي."
همدغو دوو شرطونو ته په کتو سره څرګندېږي، چې طالبان غواړي، د خبرو اترو میز ته د حاضرېدو په پایله کې لاندې امتیازات ترلاسه کړي:

(پاتې درېیم مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

## فاجعهٔ حذف تاریخ چهل سال اخیر از نصاب تعلیمی معارف کشور

در رابطه با تصمیم وزارت معارف و تبصره آقای محمد آصف ننگ معین تخنیکی آن وزارت قابل یادآوریست که:

هرگاه تاریخ برای سرد حوادث بمنظور ارشاد درس عبرت به نسل بعدی و جلوگیری از تکرار اشتباهات باشد، لازمست تاریخ نیم قرن اخیر که آموزنده ترین دوره برای نسل جوان است توسط قلم توانائی به رشته تحریر آورده شود که مصلحت فوق را به بهترین صورت تأمین نماید. طوریکه بدون رعایت مقدس مآبی ها و ترجیحات بلا مرجع عوامل سقوط نظام ظاهرشاهی، رقابت های خانواده سلطنت، نظام دیکتاتوری محمد داؤد، چشم طمع استعمار به این سرزمین، تجاوز ارتش سرخ به این کشور پس از نیم قرن توقف در کناره دریای آمو، عوامل همکاری داخلی و عناصر همکار با این تجاوز، مقابله و پای مردی ملت مسلمان افغانستان، تقدیم یک ملیون و ششصد هزار شهید در برابر این تجاوز ننگین، چهارده سال جهاد و ایستادگی در برابر بزرگترین قدرت نظامی جهان، مسلح با ایدیولوژی فریبنده کمونیزم در کنار همه امکانات نظامی، شکست نظامی ارتش سرخ و فرار آنها از افغانستان و سرنگونی امپراتوری سرخ و شکست جهانی کمونیزم و پایان جنگ سرد عوامل سقوط داکتر نجیب الله، مجاهدین و تنظیم های جهادی در آزمون تقسیم قدرت، مروری بر جنگ های داخلی، عوامل ظهور طالبان، عکس العمل ها در برابر طالبان، عوامل مهاجرت های دوباره تا حادثه یازدهم سپتمبر. در حالیکه در این میان اختلافات و جنگ های داخلی نقاط سیاه این تاریخ را می سازد، افتخارات بزرگی در آن آشکار است که هیچ چشمی نمی تواند از آن اغماض نماید.

بی خبری از این حوادث و ناآگاهی از آنچه چشم طمع استعمارگران بر کشور ما تحمیل نموده است مانند گردانندگان سیاسی همین چهل سال که خود از تاریخ صدو پنجاه ساله اخیر کشور بی خبر بودند، بار دیگر در وطن ما فاجعه خواهد آفرید که شاید بدتر از تکرار تاریخ چهل سال گذشته فعلی باشد و جوانان بی خبر اشتباهاتی را مرتکب شوند که مسؤولیت آن بدوش متفکرینی خواهد بود که تاریخ معاصر را از مواد درسی انداخته اند.

آنهائی که از ایجاد اختلافات بیشتر ناشی از آن اندیشه دارند یکبار بر تاریخ خلفای راشدین و خاصتاً در جنگ جمل و صفین نظر اندازند ممکن فرقه های مذهبی افراطی به دشنام و ناسزا به صحابه کرام پرداخته باشند اما اهل سنت و جماعت با آداب خاصی در حالیکه همه حوادث را شرح داده اند اشتباهات میان آنها و تلخی های پیش آمده را به خطای اجتهادی تعبیر نموده اند. تاریخ سازان موجوده ما هیچکدام قدسیت و احترام صحابه کرام را در میان مسلمانان ندارند.

هرگاه این تاریخ با زمزمه های مغرضانه دشمنان اسلام و جهاد به گوش مردم برسد مسؤولیت غلط فهمی از آن هم بدوش مسؤولین وزارت معارف خواهد بود.

## بیجا شده گان در برابر سرمای طاقت فرسا نزده درجه تحت صفر

دوکتور محمد انور

از ده سال باینطرف جامعه جهاني نه تنها حضور نظامی که حضور فعال امدادی، مدنی در کشور ما دارد.

اینکه از چه زمانی و با کدام تناسب مساعدتهای شان از طریق PRT ها و مؤسسات غیر دولتی بمصرف رسیده است. بخشی از مساعدتهای جهانی از طریق دولت افغانستان و ارگانهای رسمی و مسؤول بمصرف می رسد، آمد و رفت این همه امکانات وسیع که جهانی را به شور آورده است و در هر یک کنفرانس بین المللی دست حاجت ما بسوی جهان دراز است و دهان ما باز. این سوال را مطرح مینماید که چرا در حالیکه این همه سخاوت کشورها و جامعه بین المللی متوجه افغانستان است و ده سال است ادامه دارد دستگاه حاکم بر مقدرات ملت افغانستان از تنسیق این مساعدتها عاجز است، بی آنکه هیچنوع کهانتی در کار باشد یا پیشبینی دقیق، هر کسی می تواند بداند که موسم سرما که هر بار بیش از سی سانتی متر برف بر روی زمین بنشیند ناممکن است. صحت و حیات آنهائی را که زیر خیمه ها زندگی می کنند بحیث زنده جان ها مسؤلانه مورد بحث قرار داد چه رسد به صفت اشرف مخلوقات و موجودات عزیز و خلیفه خداوند در روی زمین. آنجا که سرمای شدید در نیم کره شمالی در اروپا هم تواند جان صدها تن را تهدید کند بیست طفل افغان که در زیر خیمه ها آنهم خیمه ایکه خود از اشیای بی کاره برای خود ساخته اند اگر بمیرد باز هم خیلی ها کم است. و اگر در سراسر افغانستان ارقام آن کمتر از اروپا ثبت گردد به کوتاهی معلومات و احصائیه غیر دقیق نسبت داد و نه به کمي ارقام آن، در نظامی که دولت مردان در آن در برابر ملت خود احساس مسؤولیت نمایند، باید افراد و فامیل هائی که در هر گوشه از کشور با بی سرنوشتی بسر برند بپرسد که چرا آمده اند و کدام انگیزه باعث آن شده که وطن و ماوای اصلی خود را ترک گفته و برای خود خس پوشکی در گوشه شهری تدارک کرده اند.

رسیدگی به فامیل های بی سرنوشتی که در چهار راهی قمبر و گردو نواحی آن خیمه برپا کرده اند و یا چهار دیواری های گلی ساخته و سر آنرا با خس و خاشاک و یا هم پارچه های بی مقاومت پوشانیده اند کار اداره ضد حوادث و یا هم وزارت صحت عامه نیست که اکنون به آنها مواد غذایی و یا طبیب و دوا تهیه کند و یا جوابگوی مرگ و میر اطفال و کهنسالان آنها گردد.

وزارت عودت مهاجرین و به اصطلاح بیجا شدگان قبل از فرا رسیدن سرما باید از خود می پرسید که اینها از کجا آمده اند و چرا اینجا باشند. امروز صبح توضیحات بعضی ادارات دولت را در مورد آنها شنیدم و ناله و فریاد مردان جوانان و زنان و کودکان را مشاهده نمودم که از ولایت هلمند به اینجا آمده بودند.

در حالیکه قوای ائتلاف از پیروزی خود بر هلمند و ختم کامل مرکز تروریستی در آنجا می لافد موجودیت این فامیل ها در چهار راهی قمبر چگونه می تواند توجیه گردد.

هلمند ولایتی سر سبز و سکان آن آنقدر هم بی ملك و زمین نیستند که تن به این حد آوارگی دهند. که اطفال و کهنسالان شانرا قربانی سرمای طاقت فرسای کابل بسازند.

این آقای والی هلمند و مقامات امنیتی آنولایت که در جابجا نمودن دوبارهٔ آنها مسؤولیت دارند، هرگاه وزارت عودت مهاجرین مسؤولیت تنظیم برگشت این نوع فامیل ها را به عهده نداشته باشد پس صرف این همه بودجه و استخدام اینهمه مامور و کارمند برای چه؟

هرگاه علت بیجا شدن این فامیل ها از هلمند مشکلات امنیتی بوده باشد از بهار امسال تا کنون از ولایت هلمند مخالفین مسلح رانده شده اند که باید مقامات مسؤول دولت زمینه اسکان دوباره همین فامیل ها را به خانه های شان فراهم می نمود، تا آبرومندانه و بدون تشویش به کار و زندگی طبعی شان ادامه می دادند و باعث ایجاد ازدحام بی مورد در شهر کابل نمی شدند، کودکان و جوانان کم سال شان در چهارراهی های شهر کابل در سرمای منفی نزده درجه سانتی گرید به امید بدست آوردن چند پولی ناچیز به دروازه های موتر ها خود را معلق نمی ساختند تا انسان با مروت سوار بر عراده جات چیزی به آنها عطا کند و یا انسانهای بی مروت آنها را محروم بگذارد. تراکم ادارات مماثل و مشابه در دولت به حدی است که اکنون هر اداره ای از پذیرفتن مسؤولیت بدیهیات شانه خالی می کند و بار شانه خود را به عهده دیگران می اندازد، من از طرح ایجاد یک کمیسیون برای رسیدگی بحال همچو بیجا شدگان احساس کمی می کنم. نمی دانم شاید همین اکنون هم رسیدگی کامل به همچو حالات شاید مسؤولین در وزارت خانه ها داشته باشد و یا از وظایف کدام یک از کمیسیون های تشکیل شده در نظام آقای کرزی باشد که ایفای این وظایف را به فراموشی سپرده است.

یک نظام مسؤول باید توجه داشته باشد که گوسفندها و مواشی بی سرنوشت که در کوچه های کابل به چرا گذاشته شده اند و می توانند عامل شیوع بیماریهای زیادی گردند.

و از مواد خوراکی خیلی ها خطرناك استفاده می نمایند مربوط به چه کسانی اند و چرا چراگاه های طبعی و تاریخی شان بر آنها بسته شده است و مردمی از ولایتی سرسبز و حاصل خیز در کنار دریای خروشان هلمند چرا تن به بی سرنوشتی در گوشه و کنار کابل دهند؟ در میان این آوارگان شاید از ولایات مختلف و با مشکلات متنوع بسر برند که رسیدگی به آن به عهده دولت با طول و عرض تشکیلات تحمیل شده بر جامعه جهانی و ملت مظلوم افغانستان باید باشد. اما اسفاکه شب گذشته و امروز صبح نمایندگان ارگانهای مختلف دولت هر یکي از پذیرفتن بار مسؤولیت مصیبت های آمده بر این مجموعه بی سرنوشت طفره می رفت.

هرگاه زمینه های بودو باش آبرومندانه این فامیل ها در قریه جات، قصبات و شهرهای کوچك مربوط بخود شان فراهم گردد، کاریابی مناسب در مناطق مختلف فراهم آوری گردد، در حالیکه توزیع متناسب نفوس بر همه نقاط کشور محیط زیست مناسب را ایجاد و از صحرا شدن وطن ما جلوگیری می کند. زمینه سازی برای حیات قریوی، کاریابی و تأمین احتیاجات اهالی در مناطق خود شان برای برگشت دوباره اهل خبره و ایجاد روابط وسیع علما، دانشمندان و اهل خیر و صلاح زمینه های نفوذ افراد خرابکار را سد نموده و در فراهم نمودن امنیت سراسری نقش مؤثر ایفا می نماید.

وزارت خانه هائیکه با داشتن امکانات وسیع بنام بودجه انکشافی از مصرف آن عاجز اند اگر کمی به خود زحمت داده از شهرهای بزرگ به بیرون قدم نهاده برای فراهم آوری حیات قریوی و جابجا نمودن سکان اصلی آن به خانه های شان برنامه مناسب طرح ریزند.

شهرهای بزرگ را از تراکم نفوس نجات داده اند برای کاریابی آبرومندانه هموطنان خود در جوار خانه آنها جلو آواره شدن آنها را گرفته اند و خود از بی برنامگی در مصرف بودجه و یا صرف مسرفانه بودجه در امور غیر ضروری نجات داده اند.

# دنړیوالو ځوکونو له وتو سره به کورنۍ جګړه پیل شي؟

عبدالله کامه وال

دامریکاپه مشرۍ نړۍ واله ټولنه وای چې د۲۰۱۴ کال پورې به خپل فوځونه له افغـانستانـه وبـاسـي اودامنیت چارې به په ټولیزه توګه افغان ځواکونو تـه وسپاری ددوی په اندهغه مهال به افغـان ځـواکـونـه دکمیت له پلوه پوره وی اودا وړتیا بـه ولـري چې دهیوادساتنه وکړي د دوی په اند د ملي اردو شمېربه تر درې لکو او د ملي پولیسو شمېربه تر یو نیم لـکـو ورسېږي.

چې نړۍ وال خواکونه اوافغان دولـت دا د خان لپاره یوه ستره لاسته راوړنه بولي خو دا چې ترهغې به په ملي اردو اوپولیسو کې دفـرار کـچـه ترکومه بریده وی ځکه وخـت نـاوخـت داسـې خبرونه هم خپرېږي چې په ملي اردوکـې دفـرار کچه ډېره شوې اودا هم ویل کېږي چې که کلـه نړۍ وال ملاتړ نه وي نو دا کچه به نوره هم لـوړه شي د نظر خاوندان دفرار یو لامل دا ګڼي چې په ملي اردوکې هغه ځوانان خانونه شـامـلـوي چـې دنورکار اوکسب نه وي او له اقتصادي ستونزو سره مخ وي.

چې کله یې اقصاد ښه شي او دبـل کـارد کـولـو جوګه شي نود ملي اردو له لیکو تختي بلـه مـهـمـه ستونزه داپه ګوته کوي چې.

په ملي اردو کې ملي روحـیـه کـم رنـګـه ده اودنورنظام په څېر دلته هم سمتي، ګوندي اوژبـنـي مسایل شتون لري مهم اوکلیدي پوستونه په هـمـدې حساب ویشل کېږي چې داهم داندېښنې وړموضوع ده خو که تردې ټولو خبرو تیرشو اویا یـې نـاسـمـې وګڼونو دملي اردو سمبالښت خو یوه ضروري خبره ده. ترکومې چې افغان ځواکونه پرپرمختللو وسایـلـو سمبال نه شي اودښمن سره دمقابلې پوره توانمنـدي وه نه لري نو دشمیر زیاتوالی بـه پـرتـه لـدې چې یوزیاته اندازه بودیجه مو مصرف کـړي وي نـوره هیڅ ګټه نه لري، نه به دامنیت په راوستو کې اغیزمنه ثابته نه شي اونه به دنړۍ وال تروریزم او اوګاونډیو هیوادودسیسو پروړاندې د مقاومـت تـوان ولـري اوهغه پدې مانا چې دامهال افغانستان کې تر یـولـک زیات امریکای اوتر پنځوسو زرو زیات نـړی وال فوځونه چې په پرمختللو وسلو سمـبـال دی د لـسـو کلوپه اوږدو کې کې پدې وه نه توانیدل چې ددوی په اصطلاح تروریزم وځپي اویایی له منځه یوسي نو

افغان ملي پولیس اواردو یی به څنګه په پدایو مـیـل کلا شینکوف اوماتو ګوډو کټخو ټاکنو چې اقلا یوه پیکا ماشینداره پری هم نه وی نصب وکـړي دنـظـر خاوندان وای چې که چیرې ملي اردو اوملي پولیس تجهیز نه شي او هوایي ځواک یې پـر عـصـري او پرمختللو الوتکو سمبال نه شي او پرپرمختللو وسـلـو سمبال نه شي کیـدای شـي داهـیـواد دنـړۍ والـو ځواکونوتروتووروسته یو ځل بیا دنوی یمې لسیـزی پرلور لاړ شي. کورنۍ جګړه پیل اودهـیـواد ګـوډ ګوډ دجنګ ډګر وګرځي زه چې څه وایم دا هـغـه څه دي چې نن ورځ دمطبوعاتو یوه ګرمه مـوضـوع ده داخبرې اووړاندوینې به زموږ سیاسـیـونـو کـولـې اوګردي میزونه به یی پرې ګرمول خو داندېښنې وړ هغه وخت شوه چې زموږ یو ګاونډي سیاست مـدار هم پدې هـکـلـه دخـپـلـو خـیـالاتـو اظـهـاروکـړ اودمطبوعاتو پام یی ځانته راواړولو تـیـره ورځ پـه پاکستان کې نو ي خـلـیـدونـکـي سیـاسـتـوال او دتحریک انصاف ګوند مشر عـمـران خـان چـې ګومان کېږي دپاکستان په راتلونکو ټولټاکنو کې به ګټونکی او دپاکستان راتلونکی صدراعظم وي.

له سکای تلویزیون سره په یوه ځانګړې مـرکـه کې دې مسلې ته اشاره وکړه عمران خان وویل، له افغانستانه د نړیوالو ځواکونو تر وتلو مخکې باید پـه دغه هیواد کې یو ایتلافي حکومت جوړ شي که نه د لوېدیځو ځواکونو له وتلو وروسته به ډېرې ویـنـې وبهېږي دده په ګومان افغان فوځ ددی وړتیا نه لـري چې دهیواد امنیت سمبال کړي داچې دعمران خبرې څومره کره او مسولانه دي دابیله خبره ده خو دا چې ایتلافي حکومت به څنګه ددی جوګـه شـي چـې دهیواددفاع وکړي اواوسنی دولت یی ولې نـه شـي کولای داهغه موضوع ده چې سوالونه راولاړه وي.

پرعمران خان کـوردنـنـه هـم داسـتـخـبـاراتـي سیاستوال شک دی اوداسې ویل کېږي چې دعمران خان په خلونه اوپرمختګ کې اویا د دومره مـهـمـو شخصیتونولکه جاوید هاشمی، شاه محمود قصوري، افتخارجګړا ،دمردان توتي خان پخوانی دبـانـدیـنـو چاروززیرقصوری ،اوسردار اصف احمدعلی اعظم سواتي اونوروزیاتو سیاستوالو راتـګ تـحـریـک انصاف ته د ای ایس ای کارګټی عـمـران دلاهـور ښار په یو ه لویه غونډه کې چې ویـل کـېـږي د پاکستان په تاریخ کې دویمه لویه غونډه وه، وویـل چې ولسمشر زرداری یو خط دامریکا دفوځ مشر ته لیږلی او پکې لیکلي چې موږ ته دای ایس ای نه نجات راکړی ولسمشر زرداري پـه دې کـار د

پاکستان وقار زیانمن کړی هغه مهال خلکو دا هسې یوه سیاسی پراپګنډه ګڼله خو څه مو ده وروستـه رېښتیا هم فوځ داخبره ښکـاره کـړه اودپـاکـسـتـان سترې محکمې یاهایکوټ ته یې رسمـي شـکـایـت وکړ.

چې دې خبرې د پاکستان ولس یو څه پر عمـران خان بې باوره کړ چې عمران څنګه پردومره پټ راز خبروو نو لدې ښکاري چې عمران داستخباراتوسره لار لري اوپرسر یې د ای ایس ای دروند لاس دی. پاکستانی استخبارات هڅه کوي عمـران خـان پـدا ډول وړاندوینو یو سیاسی فعال معریفی کړي نو زمـا اندېښنه داده چې دا خبره هم له همغې منبع نـه وي شوې چې په لاهور کـې وکـړه، خـو زه وایـم پـه افغانستان کې ثبات به دګاونډیانو په ګټه وي او په بی ثباتی کې به یی دهیڅا خیر نه وی.

همدې ته ورته نظر فارن پالیسی هم خپور کړی فارن پالیسي لیکي کله چې له افغانستـانـه نـړیـوال ځواکونه وځي نو سیاسي اړخونه اومسلح قوتونه بـه قدرت ته د درسیدو پر سر جګړه پیل کړي اوشایـد داسې یو حالت ته ورسیږي چې ګاونډي هیـوادونـه به یی هم له شره په امان پاتې نه شي اوداځل به پدې جنګ کې دسمي هیوادونه هم وسوځي اوزیاتوي

۲۰۱۴ کال چې دنړۍ والو ځواکونو دوتلو نیټه ده د ولسمشر حامـد کـرزي د ولـسـمـشـرۍ دوره ورسره هم سمه پای ته رسېږي او د افـغـانـسـتـان لـه اساسي قانون سره سم یو کس دتردوه دورو زیات نـه شي کولای خپل ځان ولسمشرۍ ته کاندید کړي نو ولسمشر کرزی بلې دورې ته دکاندید و حق نه لـري خوفارن پالیسي لیکي ښایي کرزی په واک کـې د پاتې کېدو لپاره له غیرقانوني لارو کار واخلي.

اواندېښنه څرګندوي که کرزی له غیرې قانوني لارو واک ته دوام ور کړي،نو دا بـه هـم کـورنـۍ جګړې ته لار پرانیزي داچې دولسمشرۍ ټاکنو ته لا درې کاله په مخ کې دي خو داسې اندېښنې هم شته چې راتلونکی ولسمشربه څوک وي.

که څه هم خلک د ولسمشر کرزي له اقدامـاتـو خوښ نه دي خو د ا مهال چې د کومو کسانو نومونـه اخیستل کېږي داسې څوک پکې نه ترسترګو کېږي چې ملي فکر،ښه ماضي اویوه روښانه کرنلاره ولري چې افغانانو ته دمنلو وړ وي.

# (جګ لوونه

# او د سولې خبرې

(د لومړۍ مخ پاتې برخه)

۱- د دفتر له پرانستې سره رسمي حیثیت پـیـدا کړي.

۲- د خپلو بندیانو د راخوشې کېدو لپاره زمـیـنـه برابره کړي.

۳- د طالبانو هغه مشران چې د ترهګرو پـه لـسـت کې دي، هغوی له دغه لست اوباسي.

۴- کله چې د ۲۰۱۴ هـ لمریز کال په پای کـې د امریکا او ناټو قواوې له افغانستان واوځي، طالبـان تـر دې وخته د یو نظامي قوت په حیث پاتې وي او یـو ځل بیا د ټوپک په زور د خپلو اهدافو د تحقق لـپـاره کار وکړي، او افغانستان یو ځل بیا د کورنیو جنګو په اور کې لاپسې لولپه شي.

ولې دا یو منل شوی حقیقت دی چې کله هـم د جګړې دوه لوري سره خبرو اترو ته حاضر بـېږي، نـو لومړی د روغ نیتې په خاطر یو بـل تـه څـه امـتـیـاز قایلېږي. که هغه د موقت یا دایمي اوربند پـه شـکـل وي، د بندیانو د خوشې کولو په شکل وي، یو بل ته د نیول شویو ځمکو د پرېښودلو په شکل وې او داسـې نور... خو د طلباً کرامو له شرطونو څرګندېږي چې نه غواړي مقابل لوري ته په لومړیو، منځنیو او وروستیـو پړاوونو کې کوم امتیاز ور کړي، بلکې یوازې د ځـان لپاره یې د امتیازاتو غوښتنه کړې ده، بلـه دا چـې د خبرو اترو د میز نه د پرشاکېدو غوښتنه یې کـړې ده، خو دا یې څرګنده کړې نه ده چې په کومو شـرایـطـو کې له مذاکراتو نه په شاکېږي.

همدارنګه د امریکا متحده ایـالاتـو هـم ځـیـنـی شرطونه وړاندې کړي دي چې که لازم دقـت ورتـه وکړای شي، غیر ضروري دي. لکه: طالـبـان دې لـه القاعدې نه د خپل بېلتانه اعلان وکړي.

زموږ له نظره دا شرط ځکه بې موقع دی، چې کـه هغه مهال چې طالبانو غوښتی وای چې نور له جـنـګـه ستړي شوي او غواړي خپل مشکل د خبرو لـه لارې حل کړي، نو بیا که پورته غوښتنه ترې شوې وای، یو څه ځای به یې لاره، اوس چې له یوې خوا د جرمـنـي هېواد د طالبانو او امریکا ترمنځ منځګړیتوب کـوي، بلې خواته قطر هم د یـوه فـعـال او د طـالـبـانـو د خواخوږي په حیث منځګړتوب ته رادانـګـلـي او د طالبانو له خبرو داسې ښکاري، چې په تېرو لسو کـلـو کې یې له یاد هېواد سره ښې اړیکې لرلې او ښـایـي د همدغه قطر په منځګړتوب طالبانو خبرو اترو تـه زړه ښه کړی وي، په حقیقت کې همدغه د خبرو میز تـه حاضر بدل له القاعدې نه د بېلتانه اعـلان دی، ځـکـه القاعده په هېڅ توګه له امریکایانو سره سوله او روغـه جوړه کول نه غواړي.

دمخه مو یادونه وکړه چې د افغانستان اوسنـیـو او راتلونکیو حالاتو ته په کتو سره باید طـالـبـان دومـره جګ لو ونه کړي لکه د خپلې واکمنۍ پر مـهـال یـې چې کاوه او یا هغه مهال چې ددوی خوځښت نـوی پیل کړای شو، ټولو جهادي ګوندونو ته یې پرتـه لـه تور او سپین بد بد الفاظ کارول او له بلې خوانه هـغـه مهال د افغانستان وګړي له کورنیو جنګونو پوزې تـه راغلي وو، ځکه یې په هر ځـای کـې دوی تـه ښـه راغلاست ووایه، وسلې یې ور کړې او ملګـرتـیـا یـې وکړه، خو کله چې د هېواد په شمالي ولایاتـو ددوی پرخلاف د مقاومت ځپې راپورته شوې د څه ډول بې رحمانه نیرنګونو ښکار شول او څه ډول تلـفـات یـې ولیدل او بیا دوی یې په ځواب کې د هېواد په مرکزي ولایاتو کې هماغه څه تکرار کړل، چې نـورو ددوی پرخلاف کړي وو. د زیات عمر خو لا څه چـې هـر شل کلن او پنځه ویشت کلن افغان ته د طالبانو د مهال بې رحمانه جنګونه او کړنې یادې دي او ښایي هـمـدا یې په ټول ژوندانه کې تر ټولو بدې خاطرې وي.

په دې خو هر افغان پوهېږي چې افغانستان د بـبـلا ببلو قومیتونو ګډ کور دی او وي بـه، نـو کـه زمـوږ طالبان ورونه غواړي چې لـه جـنـګ جګـړو لاس واخلي او د یوه سیاسي ګوند په حیث د خپلو اهـدافـو لپاره مبارزه وکړي، تر هر څه لومړی باید د افغانستـان ملي جوړښت په دقت سره وڅېړي او بـیـا د خـپـلـې واکمنۍ او ترې راوروسته حالات په غور سره مطالعـه کړي او د همدغو حالاتو په رڼا کـې خـپـل اهـداف وټاکـي او داسـې شـرایـط وړانـدې کـړي، چـې حساسیتونه ونه زېږوي بلکې له منځه یې یوسي.

بلې خواته د امریکا متحده ایالات هم د یواځیـنـی نړیوال ځواک په حیث دنده لري، چې د خپل نړیـوال حیثیت د ساتنې په خاطر باید له طالبانو سره د خـبـرو داسې لارې چارې په کار واچوي چې پـایـلـه یـې د افغانستان او افغانانو لپـاره د مـلـي روغـې جـوړې، پخولاینې او سولې زېرې وي، نه دا چې افغانستان یـو ځل بیا د کورنیو جنګونو په ډګر بدل شي.

همداراز مو له حکومتي چارواکو غوښتنه ده چې د سولې بهیر ټکي په ټکي تعقیب کړي او په هر قـدم کې د افغانستان د راتلونکیو ستونزو د حل پـه مـوخـه رغنده وړاندیزونه له ځان سره ولري.

یو ځل بیا باید څرګنده شي، چې د بهرنیانو له وتلو وروسته به هر ډول کورنې جنګونه د افغانستان مېشتـو ورونړو ترمنځ حساسیتونه لاپسې تقویه کړي، او خدای جل جلاله مه کړه زموږ د ګران او خـواږه هـېـواد د ټوټې ټوټې کېدو لامل به شي. ځکه زموږ د ګاونډیانو نیتونه خو له یوه افغانه هم پټ نه دي.

# افغانستان د نړۍ په رسنيو کې

## په افغانستان کې زموږ مداخله يو مصيبت دی

**واشنګټن پوسټ:**

واشنګټن پوسټ ورځپاڼې د اوباما ادارې د افغانستان د جګړې د پای ته رسولو لوبه پای ته نژدې کړې، ترسرليک لاندې په يوه مطلب کې ليکې: په داسې حال کې چې د افغانستان د جګړې ستړيا مخ په زياتيدو ده او انتخابات هم په مخ کې دي، د اوباما ادارې د دغې لوبې د پای ته رسيدو لپاره هڅې ګړندی کړي دي.

ورځپاڼه ليکي، په وروستيو اونيو کې هغو مسايلو، چې د تړلو دروازو ترشاه په مهمو غونډو کې به پرې بحث کيده، لکه له طالبانو سره د سولې خبرې، د ناټو د محارب ماموريت ليږد، د ځواکونو ايستل او له افغانستان او پاکستان سره د امريکا راتلونکې اړيکې، په بيړه د عام محضر او د سياسي بحثونو اساسي ټکي ګرځيدلي دي.

د واشنګټن پوسټ په وينا دغه پلانونه، چې تر اوسه د طرحې په پړاو کې دي ډيرمخکې له هغې په سرعت افشا شول چې د اوباما ادارې يې د جزياتو د بيانولو لپاره تياری نيولی و.

دې کار د د غو پلانونو د هم اهنګ کولو او د ملاتړ هڅې له پيچيلتيا سره مخ کړي دي.

د اوباما د ادارې يوه لوړ رتبه چارواکي د خپل نوم نه ښودلو په شرط دې ورځپاڼې ته ويلي، چې د دغو پلانونو په هره برخه کې که طالبان، اسلام اباد، کابل يا واشنګټن دي، داسې کسان شته چې هغه ردوي يا هڅه کوي چې په ډاګه شوې ستراتيژۍ ترخپل نفو ذ لاندې راولي. دوی له افشا شويو جزياتو د وسيلې په توګه کاراخلي.

واشنګټن پوسټ وړاندې ليکي، له طالبانو سره د خبرو په اړه افشا شويو متضادو جزياتو په کانګرس کې د وکيلانو غوصه راپارولې ده.

تيره اونۍ کانګرس د امريکا د استخباراتو د ملي ادارې او د سي ای اې پر مشرانو د هغو متضادو راپوروکو په خاطر فشار راوست چې د افغانستان د جګړې د خرنګوالي په اړه مختلف تصويرونه ورکوي.

د اوباما ادارې څرګنده کړې، چې په دغه جګړه کې د پام وړ پرمختګ شوی خو په يوه بل پټ راپور کې بيا وسله وال طالبان ډير پياوړي او ډاډمن بلل شوي دي.

**برېتانوي ټايمز:**

برېتانوي ټايمز ورځپاڼه د افغانستان د جګړې په اړه د يوه مطلب په پيل کې ليکې، په افغانستان کې زموږ مداخله يو مصيبت دی او راځئ چې نور د دغه مصيبت وروستی مياشتې وشمېرو.

د مطلب د ليکوال په باور په مصيبتونو کې دا حقيقت هم نغښتی دی، چې دغه جګړه چې موږ په ۲۰۰۱ کال کې پيل کړې، بايد ويې نه بايلو، دا لکه د روسيې په شان مداخله نه وه چې خلکو يې په وړاندې مخالفت څرګند کړ، دې مداخلې د ملګروملتونو د امنيت شورا د پريکړه ليک او د افغانانو ملاتړ په اساس عملي بڼه غوره کړه، خو د ورځپاڼې په باور دغه جګړه په هماغه بڼه پای ته رسيږي چې روسيې پای ته رسولې وه، له افغانستانه له وخته مخکې وتل د هيلې وړ قوي پوځ، فاسد پوليس او کمزوری حکومت ترشا پريږي.

د ټايمز په وينا په افغانستان کې د لويديځ د تيرې لسيزې ښکيلتيا چې د وينو په تويديد تمامه شوې، په راتلونکو دو کلونو کې پای ته رسيږي خو افغانان به له دې هم زياته بيه پريکوي.

د ټايمز له دې ليکنې سره سم موږ لويديځ هيوادونه بايد خپله ملامتي پرنورو وانه چوو، افغانستان به د دې لپاره يوښه مثال وي چې په راتلونکې کې بيا داسې ونه شي.

### د شيکاګو په سرمشريزه کې ...

د نورو اړتيا د رفع کولو لپاره نړۍ زموږ سره دا خبره منلې نو د شيکاګو په سرمشريزه کې به په دغو مسايلو به تصاميم نيول کيږي او هغه به نړۍ ته اعلانيږي.)

جانان موسی زي ويل، چې د افغانستان او نړۍ ترمنځ ښې اړيکې موجودې دي او کوښښ کيږي، چې له بېلابېلو هېوادونو سره د ستراتيژيکو همکاريو د سندونو په لاسليک کولو سره دا اړيکې نورې هم پياوړې شي.

موسی زي څرګنده کړه، چې د جرمنې په مونيخ کې هم د امنيت د کلنۍ کنفرانس په څنډه کې د افغانستان د بهرنيو چارو وزير زلمي رسول د امريکا، جرمني او سترالیا د بهرنيو چارو له وزيرانو او د چين او جاپان د بهرنيو چارو د وزارتونو له مرستيالانو سره خبرې وکړې او هغوي ټولو ټينګار وکړ، چې له افغانستان سره به په بېلابېلو برخو کې خپلې کړې ژمنې عملي کړي.

د بهرنيو چارو وزارت وياند وويل، چې په دې خبرو اترو کې دا هم مطرح شوه، چې په افغانستان کې نا امني د نړۍ د بې ثباته کولو په معنی ده او نړېواله ټولنه دې مسالې ته زير شوې ده:

"نړېواله ټولنه د افغانستان د دوامداره امنيت، ثبات او پرمختګ لپاره ټينګه ژمنه لري ځکه په دې هېواد کې نا امني په سيمه او نړۍ کې هم د نا امنيو او د ترورېزم د ودې سبب ګرځي.

پر دې مسايلو څرګندې خبرې وشوې او جدي مطرح شوې".

له افغانستان څخه د ۲۰۱۴ ميلادي کال په پای کې د بهرنيو ځواکونو له وتلو سره داسې اندېښنې موجودې دي، چې ښايي نړېواله ټولنه له دې هېواد سره خپلې مرستې کمې کړي او افغانستان ونه توانيږي د خپلو امنيتي ځواکونو لګښت پوره کړي.

د دې ترڅنګ يو شمېر کتونکي اندېښمن دي، چې د نړېوالې ټولنې له خوا تر اوسه پورې د افغان امنيتي ځواکونو تجهيز او روزنې ته هم هغه شان چې لازمه ده پام نه دی شوې، خو افغان چارواکي ډاډ څرګندوي چې نړېواله ټولنه په ځانګړي توګه امريکا او ناټو په دې برخه کې له دوي سره ټينګې ژمنې کړې او له ۲۰۱۴ ميلادي کال څخه وروسته به هم ترلسو کلونو پورې له افغان امنيتي ځواکونو سره خپلې هر اړخيزې مرستې جاري وساتي.

### امريکا در مورد فعاليت نيروهای ...

افغانستان را از نظر بگذراند.

قرار است جنرال تونی توماس بحيث رييس اين ماموريت تعيين شود. اين بازنگری در حالی صورت می گيرد که تعداد نيرو های امريکايی در افغانستان رو به کاهش است.

وزارت دفاع امريکا می خواهد تا قوای اين کشور بيشتر نقش آموزشی برای نيرو های افغان و نظارت از آنها را داشته باشند.

به نوشته واشنگتن پست، قوماندان نو نيرو های خاص امريکا، مسوول نظارت و تنظيم عمليات های روزانه خواهد بود. گفته می شود اين پلان که در حال حاضر تحت غور قرار داشته و کار روی آن جريان دارد، در امور جنگ يک تغيير بزرگ خواهد بود.

به اين ترتيب نيرو های امريکايی، با اردو و پوليس ملی افغان در بخش های تقويت حاکميت حکومت افغانستان و مبارزه با شورشيان مسلح همکاری خواهند کرد.

روزنامه واشنگتن پست می نويسد: اين پلان مشابه طرحی است که جوبايدن معاون رييس جمهور امريکا در سال ۲۰۰۹ ميلادی تهيه کرده بود و بر اساس آن قرار بود تا قوای امريکا برای آموزش نيرو های افغان و هدف قرار دادن قوماندانان مهم طالبان، آموزش بدهند.

اما اين پلان جوبايدن با شدت رد شد زيرا قوماندانان امريکايی در آن زمان استدلال کردند که برای آنها به عساکر زياد نياز است تا مقاومت طالبان را در هم شکنند و افراد اين گروه را از شهر ها بيرون کنند.

گفته می شود که جنرال توماس در جريان سال ۲۰۱۲ برای اين ماموريت تازه به افغانستان خواهد رفت. مقامات ارشد امريکايی گفته اند که تا حالا برای فرستادن اين جنرال توافق قطعی نشده است.

ليون پنيتا وزير دفاع امريکا هفته گذشته به تغييرات عمومی اشاره کرد و گفت که ايالات متحده می خواهد تا ماموريت عملياتی خود در افغانستان را به پايان برساند.

يک مقام ارشد امريکايی که خواسته نامش گرفته نشود، به روزنامه واشنگتن پست گفته است: پلان آنها برای تغييرات قوای اين کشور در افغانستان، از چندين جهت مورد بررسی قرار دارد و تا هنوز گام نخست هم برداشته نشده است.

در حال حاضر در مورد اينکه نيرو های امريکايی چه وقت نقش خود را از عمليات نظامی به آموزش اردو و پوليس ملی افغان تغيير خواهند داد و مسووليت های امنيتی را به افغان ها خواهند سپرد، بحث ها در قصر سفيد و وزارت دفاع امريکا ادامه دارد.

به نوشته واشنگتن پست، با آنکه ايالات متحده می خواهد تا سال ۲۰۱۳ ميلادی، عمليات های خود را در شرق افغانستان به پايان برساند، مقامات در کابل و واشنگتن می گويند که نيرو های امريکايی تا سال ۲۰۱۴ و حتی ۲۰۱۵ در جنگ های شديد نقش خواهند داشت.

اداره رييس جمهور بارک اوباما می گويد که تا پايان امسال بيست و دو هزار عسکر را از افغانستان بيرون خواهد کرد و تعداد قوای امريکايی در اين کشور به شصت و هشت هزار تن کاهش خواهد يافت.

به نوشته واشنگتن پست، تا سال ۲۰۱۳ ميلادی، کاهش نيرو ها در افغانستان، بالای قوماندانان نظامی خيلی فشار خواهد آورد.

شماری از مقامات ارشد امريکايی گفته اند، پروسه تقويت نيرو های افغان و تنظيم آنها، در بهار سال آينده توسط گروه های کوچک عساکر امريکايی آغاز خواهد شد.

گفته می شود که با کاهش قوای امريکا، قوماندانان و نظاميان اين کشور، بيشتر بالای نيرو های امنيتی افغان اتکا خواهند کرد.

### روند واگذاری مسئوليت زندان ...

دولتی، به زندان پلچرخی کابل منتقل شدند.

حامد کرزی ماه گذشته در نشستی با حضور شماری از مقامات دولتی، فرمان صادر کرد تا ظرف يک ماه ديگر مسئوليت کامل زندان بگرام به دولت افغانستان واگذار شود.

با وجود آن که پس از اين حکم حامد کرزی، برخی از مقامات امريکايی از عدم توانمندی نيروهای افغان و بی قانونی در زندان‌های افغانستان سخن گفتند اما موافقت مقامات امريکايی با اين امر، عقب نشينی واشنگتن در مقابل کابل محسوب می‌شود.

پيش از اين نيز بخشی از زندان بگرام توسط نيروهای امنيتی افغان اداره می‌شد اما با روند آغاز واگذاری مسئوليت کامل اين زندان به دولت افغانستان، انتظار می رود به زودی دولت افغانستان اختيار کامل زندان بگرام را در دست بگيرد.

چندی پيش شماری از رسانه های غربی گزارش دادند که مقامات امريکايی در نظر دارند تا اتباع خارجی زندانی در زندان بگرام را به کشورهای متبوع خود تحويل دهند.

گفته می‌شود که در حال حاضر ده‌ها تبعه خارجی عضور شبکه القاعده نيز در زندان بگرام نگهداری می‌شوند.

### ګيلاني د افغانانو په مشرۍ د سولې ...

چې د قطر له چارواکو سره په ځانګړې ډول د افغانستان د سولې پر پروسې خبرې وکړي.

په قطر کې امريکايي مقاماتو د طالبانو له استازو سره مخکې لا خبرې پيل کړي او طالبانو تياري ښوولې چې په دوحې کې سياسي دفتر پرانيزي.

ده د پاکستان پر دې دريځ ټينګار وکړ، چې د افغانانو په مشرۍ او د دوی په ابتکار د سولې د هلوځلو ملاتړ کوي.

تر دې مخکې د پاکستان د بهرنيو چارو وزيرې د ازادی راډيو مشال ځانګې ته ويل، چې ګيلاني به د قطر له چارواکو سره، هم د پاکستان او قطر پر دوه اړخيزو مسايلو او هم د افغانستان په اړه خبرې وکړي.

د پاکستان د بهرنيو چارو وزيره تيره اوونۍ کابل ته تللې وه او له افغان چارواکو سره يې په دې خبرې کړې وې، چې پاکستان طالبان او نورې وسله والې ډلې د سولې په خبرو کې ګډون ته هڅولې شي.

حنا رباني کهر همداراز ويلي و چې هيواد يې حاضر دی هر هغه اقدام وکړي چې په افغانستان کې د سولې د راتګ لپاره يې افغانان غواړي.

دې په عين حال کې ويلي و چې د سولې پروسه بايد د امريکايانو يا نورو بهرنيانو له لوري رهبري نه شي.

ويل کيږي چې په قطر کې د طالبانو له استازو سره د امريکايي مقاماتو د خبرو له رابرسېره کېدو وروسته د افغانستان او پاکستان چارواکي اندېښمن شول چې د سولې له پروسې دوی ګوښه پرېښوول شوي دي.

په پاکستان کې مېشت ژورناليست او دسياسي چارو تحليلګر سميع يوسفزي وايي چې قطر ته په سفر سره ښاغلي ګيلاني غواړي د افغانستان په مسله کې د خپل هيواد رول ثابت کړي:

يوسف رضا ګيلاني د قطر له صدراعظم سره د پاکستان او قطر پر تجارتي اړيکو هم خبرې وکړې او له دغه هيواده يې وغوښتل چې د پاکستان ماهرو کارګرو ته د کار فرصت ورکړي.

### د قطر په خبرو کې بين الافغاني...

وويل، چې په قطر کې په روانو خبرو کې تر اوسه کوم پرمختګ نه دی شوی:

"د امريکا متحده ايالات او افغانستان پدې سره په بشړ توافق کې دي، چې د افغانستان د راتلونکې په اړه دا خبرې بايد د افغانانو ترمنځ ترسره شي.

د هغو خبرو لپاره، چې د افغانانو ترمنځ په قطر کې کيږي څو مهم مسايل دي، چې بايد ترسره شي، چې زما د معلوماتو له مخې تراوسه ندي شوي.

لومړی بايد د افغان او قطر حکومتونو ترمنځ مستقيم تماس ونيولی شي، څو دوی ددې خبرو په څرنګوالي موافقې ته ورسيږي.

دويم دا، چې طالبان بايد په يوه څرګنده اعلاميه کې دا واضح کړي، چې دوی نړېوال ترورزم غندي او د سياسي بهير ملاتړ کوي، تر هغو، چې دا کارونه ونشي، نو په قطر کې به دا خبرې ونشي."

کراکر د قطر په بهير کې د ممکنه پرمختګونه په داسې حال کې رد کړي، چې د ځينو رپورټونو له مخې د بارک اوباما اداره اوس مهال د هغو پنځو طالب مشرانو په خوشې کولو غور کوي، چې طالبانو يې غوښتنه کړې.

خو ښاغلي کراکر وويل، چې د امريکا حکومت لا له ګوانتامو څخه ددغو بنديانو د خوشې کولو لپاره کومه پريکړه نده کړې.

له بل لوري افغان حکومت هم، چې ددې بهير د افغاني کولو غوښتنه کوي دا تاييدوي، چې په قطر کې اساسي خبرې لا ندې پيل شوې.

د افغان حکومت د رسنيو د مرکز مشر ډاکټر حکيم عاشور ازادی راډيو ته وويل، چې د امريکا لخوا ورته ډاډ ورکړل شوی، چې ددې خبرو مشرۍ به ورسپاري:

"د افغان حکومت موقف دريځ روښانه دی زموږ سپارښتنې تل داوي چې د سولې د پروسې رهبري بايد افغانان وکړي او د امريکا له خوا مطمن شوي يو نو موږ انتظار باسو چې تر څو دا پروسه عملي شي."

افغان او امريکايي لوري د قطر د خبرو په اړه دا څرګندونې په داسې حال کې کړې، چې د پاکستان صدراعظم هم په قطر کې دی او ويل کيږي، چې د خبرو د اجنډا يوه مهمه برخه يې د افغانستان د سولې بهير دی.

ځينو پاکستاني سرچينو ويلي، چې امريکا ورسره د قطر د خبرو په اړه ځينې معلومات شريک کړي، چې دې کار بيا ځينې افغان کتونکي اندېښمن کړي، چې دغه هيواد به يو خلې بيا دا بهير له ځينو خنډونو سره مخامخ کړي.

خو ډاکټرعاشور وويل، چې قطر ته د ګيلاني د سفر په اړه اوس قضاوت کول به له وخت نه مخکې وي او اوس دوی ددې سفر نتايجو ته په تمه دي.

### در بودجهٔ سال ۱۳۹۱ توازن...

وی علت عدم توازن بودجه را به ولايات عقب مانده، نبود نمايندگان آن ولايات در راس يک وزارت بيان کرده گفت که اگر نماينده های اين ولايات در کابينه حضور ميداشتند، بودجهٔ کافی به آن ولايت در نظر گرفته ميشد.

به گفتهٔ حقمل، بيشتر پروژه های انکشافی که در برخی از مناطق طرح شده است، ضروری نبوده؛ درحاليکه ده ها پروژهٔ ضروری هم اکنون وجود دارد؛ اما در ولاياتی که مستحق هستند، عملی نمی شود.

حافظ عبدالقيوم نمايندهٔ مردم نورستان در مشرانوجرگه، نيز از عدم توازن بودجه به ولايات انتقاد کرده، گفت: "ولاياتی که بيشتر به پروژهٔ های انکشافی نياز دارند، تشخيص نشده است."

وی افزود که کدام وزير از نورستان در کابينه وجود ندارد، از همين جهت است که به مشکلات مردم اين ولايت توجه نمی شود و بودجهٔ لازم، به آن تخصيص نمی يابد.

بر اساس معلومات رييس کميسيون مالی، بودجه و اقتصاد ملی مشرانوجرگه؛ ازاول سالجاری تا يازدهم دلو، اداراتی که شامل سکتور امنيت اند، توانسته اند حدود ۱۵درصد، سکتور حکومتداری، حاکميت قانون و حقوق بشری ۳۲درصد، سکتور زيربنا و منابع طبيعی ۲۷درصد، معارف ۳۰ درصد، صحت ۴۰درصد، سکتور زراعت و انکشاف دهات ۴۷درصد، بخش مصوونيت اجتماعی ۳۷ درصد، و سکتور رشد اقتصادی و انکشاف سکتور خصوصی، ۳۳ درصد بودجهٔ انکشافی را به مصرف برسانند.

به اساس معلومات وزارت ماليه، بودجهٔ انکشافی سال روان مالی، ۸۰ميليارد دالر و بودجهٔ عادی، ۱۵۰ ميليارد افغانی بوده و همه بودجهٔ انکشافی از کمک های خارجی تمويل خواهد شد.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي ځانګه
د امتياز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدير: عبدالله "کامه وال"
مرستيال مدير: عبدالخليل (محمد خليل)

د اړيکو شمېرې:
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدير ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستيال مدير: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونيزه د هر ليکوال او د نظر خاوند د ليکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونيزه حق لري چې د ليکوال ليکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د ليکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوې مطالب نه مستردېږي - پوازې سرليکنه د شهادت د اونيزی رسمي نظر دی

ديزاين: خواجه وحيدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سيلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه. کابل - افغانستان | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com